# اودس، لمونځ او د هغو مانا

عبدالله مسلمان

## دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.

**www.aqeedeh.com/pa**

برښنا ليک: **book@aqeedeh.com**

د موحدينو ګروپ ويب پاڼو

www.mowahedin.com
www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com
www.islamtxt.com
www.zekr.tv
www.shabnam.cc
www.mowahed.com
www.sadaislam.com

contact@mowahedin.com

**په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.**

# اودس

إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلْمُتَطَهِّرِينَ (٢٢٢)البقرة

**الله t له توبه کښونکو او پاکو انسانانو سره مينه لري.**

**ابي مالک اشعري رض فرمايي: رسوالله ﷺ و فرمايل:**

(الطهور شطر الايمان)

**پاکي د ايمان برخه ده.**

## د اوداسه تازه کولو ترتيب

**کله چي غواړو لمونځ وکړو نو بايد لومړی په يوه پاک ځای کي،چي هلته مردار او چټلي نه وي اودس تازه کړو.**

**اودس تازه کول په داسي توګه دي:**

1. **لومړی** (بسم الله الرحمٰن الرحيم) **وايو.**
2. **خپل لاسونه درې ځله(واره)تربندونو(مړوندونو)پوري پرېولو(مينځو).**

۳. استنجاوهو(استنجا کوو) په استنجا کي شمار مهم نه دی،بلکي شرمځای تر هغه وخته پوري پرېولو(مينځو) تر څو په دې ډاډه سو چي پاک سو.

۴. له هغه ځايه پر کوم چي مو استنجا وهلې را ولاړيږو او پر يو بل پاک ځای مخ پر قبله کښېنو.

۵. (بسم الله الرحمٰن الرحيم) وايو.

٦. خپل لاسونه يو ځل بيا تر مړوندو پوري پرېولو(مينځو).

۷. خوله درې ځله (واره) پرېولو(مينځو).د خولي په مينځولو کي له مسواک،برس او يا هم له ګوتي څخه کار اخلو.

۸. په راسته لاس پزي ته اوبه ورپاشو او په چپه لاس يې سوغ(سونړ) وهوو.

۹. درې ځله(واره) مخ پرېولو(مينځو) د يوه غوږ له نرمۍ څخه د بل غوږ تر نرمۍ پوري د سر د ورېښتانو د را شنه کېدلو(راوتلو) له ځايه څخه د زني تر لاندي پوري.

۱۰. لاسونه تر څنګلو پوري مينځو د څنګلو مينځل هم فرض دي.

۱۱. سر مسحه کوو(پر سر لاس تېروو).

۱۲. غوږونه مسحه کوو او په غوږو کي دننه ګوتي وهوو.

**۱۳.  پښې تر بجلکو پورې مینځو د بجلکو پرېوتل هم فرض دي.**

**۱۴.  د اوداسه په اخیر کې :**

(د شهادت کلمه(اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له،و اشهد ان محمدا عبده ورسوله)

**(شاهدي ورکوم چې له الله t څخه پرته بل (په حقه) د عبادت وړ څوک نسته،یوازنی دی او بل شریک نه لري او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی) وایو.**

**ورپسې دا دعا وایو:**

( اللهم اجعلني من التوابین واجعلني من المطهرین)

**اې ستر څښتنه! موږ و له توبه کښونکو او پاکانو څخه وګرځوه.**

# د لمانځه فضیلت او ثواب

۱. لمونځ د خدای t امر دی،نو څنګه چې موږ مسلمانان یو نو باید د یوه ربښتني مسلمان په څېر د خدای t امرنو ته غاړه کښېږدو ځکه خدای t خپله په خپل کتاب قران عظیم الشان کي فرمايي:(و اقیموا الصلاة) لمونځ و کړی.
۲. لمونځ کول له خدای t سره خبري کول دي.
۳. لمونځ کول له خدای t سره د مینې نښه ده.
۴. خدای t موږ ته لاسونه،پښې،سترګي،غوږونه او نور د بدن غړي راکړي، خدای t دا نړۍ زموږ د خدمت لپاره پیدا کړې ده ټولي مېوې،نباتات،مايعات او نور يې پیداکړي تر څو موږ ښه ژوند وکړو،نو موږ باید د خدای t د ټولو نعمتونو شکر ادا کړو او لمونځ د شکر کښلو لپاره تر ټولو ښه وسیله ده.
۵. که چیري څوک غواړي په دنیا او اخیرت کي نیکمرغه اوسي لمونځ کول د هغه د نیکمرغه کولو لپاره يو ښه لاره ده.

٦. **حقیقي خوښي هغه وخت سړي ته ورپېښیږي چي خپل لمونځ په ډېره مینه،عاجزی او تواضع سره تر سره کړي.**(قد افلح المومنون الذین هم في صلاتهم خاشعون) **په حقیقت سره يې بریالیتوب تر لاسه کړ هغو مومنانو چي د خپل لمانځه پروخت یي عاجزي وکړه.**

۷. **لمونځ انسان له بدیو څخه لیري کوي.**(ان الصلاة تنهیٰ عن الفحشاء والمنکر) **په تحقیق سره لمونځ د بد کارنو او فحشاو څخه مخنیوی کوي.**

۸. **لمونځ د پرهیزګاره انسانانو کار دی.**(الذین یومنون بالغیب و یقیمون الصلاة و مما رزقناهم ینفقون) **هغوی چي پر پټو(غیبو) باور لري او لمونځ کوي او له هغه شي څخه چي موږ ورته د روزي په ډول ورکړي ګټه اخلي.**

۹. **لمونځ خدای t ته د نږدې والي وسیله ده.**(واسجد واقترب) **سجده وکړئ او نږدې سئ.**

# د لمانځه رکاتونه(رکعتونه)

**پر هر مسلمان پنځه وخته لمونځ فرض دی:**




**د سهار لمونځ څلور رکاته(رکعاته) دی:**




**د ماپښین لمونځ لس رکاته دی:**



**د ماښام لمونځ** 

**د ماسپښين لمونځ**

**د ماځيګر لمونځ څلور رکاته دی:**




**د ماښام لمونځ پنځه رکاته دی:**




**د ماخستن لمونځ نهه رکاته دی:**



# د سهار د لمانځه اداينه

کله چې غواړو لمونځ و کړو ،نو وروسته تر اوداسه هر هغه شی چې هغه پاک وي او د لمانځه د تر سره کولو لپاره وړ وي اواروو او مخ پر قبله دريږو.

مخکې مو وويل چې د سهار لمونځ څلور رکاته دی،دوه رکاته سنت دوه فرض.

**اول دوه رکاته سنت په لاندې توګه تر سره کوو:**

١. نيت کوو:

نيت کوم،چې ادا کړم،دوه رکاته سنت د سهار،خاص خدای t تا لره مخ مې دی پر لوري د کعبې شريفې.(په نيت کې اصلاً د زړه نيت مهم دی)

٢. لاسونه پورته کوو او (الله اکبر) وايو.

٣. لاسونه تر نامه لاندې(نارينه) او يا پر سينه(ښځينه) په داسې شکل نيسو چې راسته لاس پر چپه لاس باندې سربېره(دپاسه)وي.

٤. سبحانک اللهم په لاندې توګه وايو:

(سبحانک اللهم،و بحمدک،و تبارک اسمک،و تعالی جدک،و لا اله غیرک)

٥. **بیا** (اعوذ بالله من الشیطان الرجیم) **وایو.**

٦. **بیا**(بسم الله الرحمن الرحیم) **وایو.**

٧. **سورة فاتحه وایو.**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١﴾ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٢﴾ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ﴿٣﴾ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ﴿٤﴾ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ﴿٥﴾ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴿٦﴾

٨. **ورپسې سم یو سورت چې زموږ زده وي یا څو ایتونه چې تر درو کم نه وي وایو.**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلۡعَصۡرِ ﴿١﴾ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ﴿٢﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ﴿٣﴾

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ ۝١ أَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ فِي تَضۡلِيلٖ
۝٢ وَأَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا أَبَابِيلَ ۝٣ تَرۡمِيهِم بِحِجَارَةٖ مِّن سِجِّيلٖ ۝٤
فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٖ مَّأۡكُولِۭ ۝٥

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لِإِيلَٰفِ قُرَيۡشٍ (١) إِۦلَٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيۡفِ (٢) فَلۡيَعۡبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلۡبَيۡتِ (٣) ٱلَّذِيٓ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ (٤)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ (١) فَذَٰلِكَ ٱلَّذِي يَدُعُّ ٱلۡيَتِيمَ (٢) وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ (٣) فَوَيۡلٞ لِّلۡمُصَلِّينَ (٤) ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ (٥) ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ (٦) وَيَمۡنَعُونَ ٱلۡمَاعُونَ(٧)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ (١) فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ (٢) إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلۡأَبۡتَرُ(٣)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ (١) لَآ أَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُونَ (٢) وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ (٣) وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٞ مَّا عَبَدتُّمۡ (٤) وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ (٥) لَكُمۡ دِينُكُمۡ وَلِيَ دِينِ (٦)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ (١) وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا (٢) فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا (٣)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ (١) مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ (٢) سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ (٣)وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ (٤) فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ (٥)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ (١) ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ (٢) لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ (٣) وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ (٤)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ (١) مِن شَرِّ مَا خَلَقَ (٢) وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ
(٣)وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّـٰثَـٰتِ فِی ٱلۡعُقَدِ (٤) وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ (٥)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ (١) مَلِكِ ٱلنَّاسِ (٢) إِلَـٰهِ ٱلنَّاسِ (٣) مِن شَرِّ
ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ (٤)ٱلَّذِی یُوَسۡوِسُ فِی صُدُورِ ٱلنَّاسِ (٥) مِنَ
ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ (٦)

**۹. (الله اکبر) وايو او رکوع ته ځو.د رکوع په وخت کي پر ملا کړوپيږو،په لاسو سره د زنګنو کوړۍ نيسو او خپله ملا په داسي توګه سيده نيسو چي که د اوبو ګيلاس پر کښېږدو وه نه چړپيږي.**

**۱۰. په رکوع کي درې ځله (سبحان ربي العظيم) وايو(کوښښ کوو چي حروف يې پوره او په بشپړه توګه و وايو) په رکوع کي د زنګونو د نيولو په حال کي بايد د ګوتو ترمنځ فاصله موجوده وي.**

۱۱. سر را پورته کو او جګ درېږو او ورسره سم: (سمع الله لمن حمده) او (ربنا لک الحمد) وایو او دا هم په هغه وخت کې چې سم جګ و درېدلو.
۱۲. (الله اکبر) وایو او سجدې ته ځو.
۱۳. په سجده کې لومړی خپل زنګونونه پر مځکه ږدو.
۱۴. وروسته لاسونه پر مځکه ږدو.
۱۵. له لاسو وروسته خپل تندی پر مځکه ږدو.
۱٦. په سجده کې درې ځله(واره) (سبحان ربي الاعلی) وایو.
۱۷. (الله اکبر) وایو را پورته کیږو بیا سجدې ته ځو.
۱۸. له دوهمې سجدې وروسته بیا ولاړیږي او په دې توګه لومړی رکات پای ته رسیږي.
۱۹. د سجدې څخه د راپورته کېدلو وروسته په (الله اکبر) سره دوهم رکات پیلو.
۲۰. په دوهم رکات کې اول(بسم الله الرحمن الرحیم) وایو.
۲۱. بیا د مخکني رکات په څېر سورت فاتحه له یو بل سورت سره وایو او د اول رکات په څېر رکوع او سجده کوو.
۲۲. له دوهمې سجدې وروسته (الله اکبر) وایو او کښېنو.

**۲۳. په ناسته کي خپل ځيګر ته ګورو او لاسونه په داسي شکل چي د ګوتو څوکي يې د کعبې و خواته وي پر ورنو ږدو.**
(التحيات لله والصلوات والطيبات السلام عليک ايها النبى ورحمة الله وبرکاته السلام علينا وعلي عباد الله الصالحين اشهد ان لااله الله واشهد ان محمد عبده ورسوله) **وايو.**

**۲۴. وروسته د لمانځه اخيري(وروستۍ) دعا په لاندي توګه وايو.**
(اللهم ربنا آتنا في الدنياحسنة وفي الاخرةحسنة وقنا عذاب النار)

**۲۵. ښى او کيڼ(راستې او چپې)خواته مخ اړو او** (السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته) **وايو.**

**۲۶. په دې توګه سره زموږ دوه رکاته سنت پای ته رسېدل.**

**دوه رکاته د سهار فرض بيا داسي ادا کوو:**

**۱. نيت کوو:نيت کوم د زړه د اخلاصه لمونځ کووم دوه رکاته فرض په دې حاضر وخت د سهار خاص خدای t ته لاره مخ مي دی پر لوري د کعبې شريف.**

**۲. لاسونه پورته کوو او** (الله اکبر) **وايو.**

**۳. نور ټول هغه ډول کړني چي موږ په دوه رکاته سنتو کي و کړې هغه په فرضو کي هم کوو.**

**۴. وروسته له سلام ګرځولو دا دعا کوو:**

( اللهم انت السلام و منک السلام -تبارکت یا ذالجلا و الاکرم).

**۵. وروسته :**

**۳۳ ځله(واره)**(سبحان الله)

**۳۳ ځله(واره)**(الحمدالله)

**۳۳ ځله(واره)**(الله اکبر)

**او وروسته :**

(لا اله الا الله وحده لاشریک له -له الملک و له الحمد،و هو علی کل شی ء قدیر) **وایو.**

# د ماپښين لمونځ

مخکي مي و ويل چي د ماپښين لمونځ لس رکاته دی:

**د ماپښين د څلور رکاتو سنتو اداينه په لاندي توګه ده:**

١. نيت کوو:

نيت کوم د زړه له اخلاصه،لمونځ کوم څلور رکاته سنت،په دې حاضر وخت د ماپښين خاص خدای t تا لره مخ مي دی پر لوري د کعبې شريفي.(که چيري دا نيت په خوله نه بلکي په زړه کي و ويل سي هم کومه خبره نه ده)

٢. لاسونه غوږو ته پورته کوو (الله اکبر) وايو.

٣. ټول هغه کارونه چي د سهار د لمانځه په دوه رکاته سنتو کي مو کړي تر سره کوو.يوازي د (التحيات) درود شريف نه وايو،بلکي د (الله اکبر) په ويلو سره دريم رکات ته ولاړيږو.

٤. په په دريم او څلورم رکات کي(بسم الرحمن الرحيم) له (الحمدالله) او يوه سورت سره وايو.

۵. د ځلورم رکات له پای ته رسېدو سره د (التحيات) درود شريف او (اللهم ربنا) له ويل څخه وروسته راسته او چپه اړخ ته سلام ګرځو.
په دې توګه سره د ماپښين ځلور رکاته سنت پای ته ورسېدل.

## د ماپښين د ځلورو رکاتو فرضو ادا ینه

۱. نيت کوو:
نيت کوم د زړه د اخلاصه لمونځ کوم ځلور رکاته فرض په دې حاضر وخت د ماپښين خاص خدای t تا لره مخ مې دی پر لوري د کعبې شريفې.
۲. لاسونه غوږو ته پورته کوو (الله اکبر) وايو.
۳. وروسته ټولو هغه کارونه چې په ځلور رکاته سنتو کې مو تر سره کړي دي په فرضو کې تر سره کو خو په دونه توپير چې د سنتو اخيري دوه رکاته ډک دي(الحمد الله او سورت دواړه په کښې ويل کيږي) خو په فرضو کې اخيري دوه رکاته خالي دي(يوازي الحمدالله په کښې ويل کيږي سورته نه په کښې ويل کيږي).

**د فرضو تر ادايني وروسته دغه دعا چي سنت ده ويل کيږي:**

(اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت يا ذا الجلال و الاکرام).

**وروسته له هغه:**

**۳۳ واره (ځله)** (سبحان الله)

**۳۳ واره (ځله)**(الحمدالله)

**۳۳ واره (ځله)**(سبحان الله) **وايو**

**وروسته :**

(لااله الاالله وحده لاشريک له،له الملک و له الحمد،و هو علی کل شیء قدير)**وايو.**

**د ماپښين د دوو رکاتو سنتو ادانيه:**

**۱. نيت کوو:نيت کوم زړه د اخلاصه،لمونځ کوم دوه رکاته سنت په دې حاضر وخت د ماپښين،خاص خدای t تا لره مخ مي دی پر لوري د کعبي شريفي.**

**۲. لاسونه غوږو ته پور ته کوو**(الله اکبر) **وايو.**

**۳. ټول هغه کارونه چي د سهار په دوه رکاته سنتو کي مو کړي د ماپښين په دوه رکاته سنتو کي يې هم تر سره کوو.**

**په دې توګه د ماپښين ټولو لمونځ پای ته و رسېدی.**

# د ماځیګر لمونځ

مخکې مو وویل چې د ماځیګر لمونځ څلور رکاته دی او څلور سره رکاته فرض دي،چې اداینه یې په لاندې توګه ده:

۱. نیت کوو:

نیت کوم زړه د اخلاصه،لمونځ کوم څلور رکاته فرض،په دې حاضر وخت د ماځیګر،خاص خدای t تا لره مخ مې دی پر لوري د کعبې شریفې.

۲. لاسونه غوږو ته پورته کوو (الله اکبر) وایو.

۳. ټول هغه کارونه چې د ماپښین په څلورو رکاتو فرضو کې مو اجرا کړي وي په دې څلور رکاته فرضو کې یې هم تر سره کوو.

د فرضو تر ادایني وروسته دغه دعا چې سنت ده ویل کیږي:

(اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذا الجلال و الاکرام).

وروسته له هغه:

**۳۳ واره(ځله)** (سبحان الله)

**۳۳ واره (ځله)**(الحمدالله)

**۳۳ واره (ځله)**(سبحان الله) **وايو**

**۴. وروسته:**

(لااله الاالله وحده لاشريک له،له الملک و له الحمد،و هو علی کل شیء قدير)**وايو**.

# د ماښام لمونځ

مخکي مو وويل چي د ماښام لمونځ پنځه رکاته دی چي درې رکاته فرض دي او دوه سنت:

**د ماښام درې رکاته فرض داسي اداكيږي:**

۱. نيت كوو:

نيت كوم د زړه د اخلاصه،لمونځ كوم درې ركاته فرض،په دې حاضر وخت د ماښام،خاص خدای t تا لره،مخ مي دی پر لوري د كعبې شريفې.

۲. لاسونه غوږو ته پورته كوو (الله اکبر) وايو.

۳. ټول هغه كارونه چي په څلور ركاته فرضو كي مو تر سره كړي دي په درې ركاتو فرضو كي يې تر سره كوو خو په دونه توپير چي د دريم ركاته له دوهمي سجدې وروسته نه ولاړيږو او له التحياتو،درود او الهم ربنا وروسته سلام ګرځو.(پاته دي نه وي چي په دريم ركات كي يوازي الحمد الله ويل كيږي بل سورت نه ورسره ويل كيږي)

۴:د فرضو تر اداينې وروسته دغه دعا چي سنت ده ويل كيږي:

(اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذا الجلال و الاکرام).

**د دوو رکاتو سنتو ادا ینه په لاندي توګه ده:**

**۱. نیت کوو:**

**نیت کوم د زړه د اخلاصه،لمونځ کوم دوه رکاته سنت،په دې حاضر وخت د ماښام،خاص خدای t تا لره،مخ مي دی پر لوري د کعبې شریفي.**

**۲. لاسونه غوږو ته پورته کوو (الله اکبر) وایو.**

**۳. ټول هغه کارونه چي د ماپښین د لمانځه په دوه رکاته سنتو کي مو تر سره کړي د ماښام په دوو رکاتو سنتو کي یې تر سره کوو.**

# د ماخستن لمونځ

مخکي مو وویل چي د ماخستن لمونځ نهه رکاته دی څلور رکاته فرض،دوه رکاته سنت او درې رکاته وتر :

**د څلور رکاتو فرضو اداینه په لاندي توګه ده:**

۱. نیت کوو:
نیت کوم د زړه د اخلاصه،لمونځ کوم څلور رکاته فرض،په دې حاضر وخت د ماخستن،خاص خدای t تا لره ،مخ مي دی پر لوري د کعبې شریفي.

۲. لاسونه غوږو ته پورته کوو (الله اکبر) وایو.

۳. ټول هغه کارونه چي د ماپښین په څلورو رکاتو فرضو کي مو تر سره کړي دي په دې څلور رکاتو کي به یې هم تر سره کړو.

۴. د فرضو تر ادایني وروسته دغه دعا چي سنت ده ویل کیږي:

(اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذا الجلال و الاکرام).

## د دوو رکاتو سنتو اداینه:

۱. نیت کوو:

نیت کوم د زړه د اخلاصه ،لمونځ کوم دوه رکاته سنت،په دې حاضر وخت د ماخستن،خاص خدای t تا لره،مخ مي دی پر لور د کعبې شريفي.

۲. لاسونه غوږو ته پورته کوو (الله اکبر) وایو.

۳. ټول هغه کارونه چي د ماښام په دوو رکاتو سنتو کي مو تر سره کړي تر سره کوو.

## د درې رکاتو وترو اداینه:

۱. نیت کوو:

نیت کوم زړه د اخلاصه ،لمونځ کوم درې رکاته وتر واجب،په دې حاضر وخت د ماخستن خاص خدای t تا لره،مخ مي دی پر لوري د کعبې شريف.

۲. لاسونه غوږو ته پورته کوو (الله اکبر) وایو.

۳. ټول هغه کارونه چي د ماښام په درې رکاته فرضو کي مو تر سره کړي دي تر سره کوو خو یوازي په دونه توپیر چي په دریم رکات کي تر الحمد الله وروسته یو سورت وایو او له سورت وروسته لاسونه غوږو ته وړو (الله اکبر) وایو او دعای قنوت وایو:

(اللم انا نستعینک و نستغفرک و نومن بک و نتوکل علیک و نثني علیک الخیر و نشکرک ولانکفرک و نخلع و نترک من یفجرک الهم ایاک نعبد ولک نصلي و نسجد الیک نسعی و نحفد و نرجو رحمتک ونخشی عذابک ان عذابک بالکفار ملحق)

**په دې توګه سره د ماخستن ټولو لمونځ بشپړ سو او د پنځه وخت لمونځ وروستی لمونځ دا وو او په دې سره د یوې ورځې بسته لمونځ پوره سو.**

# د بې لمانځو جزا

۱. څوک چي لمونځ نه کوي د پاک خدای t د امر څخه سر غړونه کوي ځکه چي خدای t په قران عظيم الشان کي امر کوي چي (واقيمو الصلاة) لمونځ وکی.
۲. څوک چي لمونځ نه کوي په حقيقت کي نه غواړي چي د خدای t سره خبري وکړي.
۳. بې لمانځه انسان هيڅکله پرهيزګار کېدلای نه سي.
۴. بې لمانځه انسان همېشه له خدايه t سره په جنګ او له هغه څخه خوابدی دی.
۵. څوک چي لمونځ نه کوي هيڅکله به د دنيا او اخرت خير و نه ويني.
٦. بې لمانځه انسان له بديو نه سي خلاصېدای او نيکۍ ته نه سي نږدې کېدای.
۷. بې لمانځه انسان جنت ته نه سي داخلېدی.
۸. بې لمانځه انسان له خدايه t څخه ځان ليري کوي.
۹. بې لمانځه انسان حتماً دوږخ ته لويږي:

(فی جنات یتساء لون عن المجرمین- ماسلککم فی سقر -قالوا لم نک من المصلین)

**(جنتي مسلمانان به له دوږخيانو څخه پوښتنه کوي چي تاسو په کوم سبب سره دوږخ ته ولاړاست دوی به وايي چي موږ لمنځونه نه کول.**

# د لمانځه مانا(معنا)

۱. د لمانځه د سورتونو مانا.
۲. د تسبیحاتو مانا.
۳. د دعاوو مانا.

# د سورتونو مانا

۱. اعوذ: **پناه غواړم.**
۲. بالله: **په خدای سره.**
۳. من الشیطان: **د شیطان څخه(یا د شیطان له شره څخه).**
۴. الرجیم: **چې شړل سوی دی.**

اعوذ بالله من الشیطان الرجیم
**پناه غواړم په خدای سره د شیطان له شره چې شړل سوی دی.**

۱. بسم الله: **شروع کوم په نامه سره د الله.**
۲. الرحمن: **چې بخښونکی دی.**
۳. الرحیم: **او مهربانه دی.**

بسم الله الرحمن الرحیم.
**شروع کوم په نامه سره د الله چې بخښونکی او مهربانه دی.**

# بسم الله الرحمن الرحيم

۱. ٱلۡحَمۡدُ: **ثنا او صفت.**

۲. لِلَّهِ : **خاص خدای لره دی.**

۳. رَبِّ : **چي پروردګار .**

۴. ٱلۡعَٰلَمِينَ : **د عالميانو دی.**

(ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ)

**(ثنا او صفت خاص خدای ته دي چي د عالميانو پروردګار دی)**

۵. ٱلرَّحۡمَٰنِ : **بخښونکی دی.**

٦. ٱلرَّحِيمِ : **مهربانه دی.**

۷. مَٰلِكِ : **څښتن دی.**

۸. يَوۡمِ: **د ورځي.**

۹. ٱلدِّينِ : **د اخرت**

- (ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ)

**(تر اندازې زیات بخښونکی او مهربانه دی)**

- (مَـٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ)

**(د اخیرت د ورځې څښتن دی)**

۱۰. إِيَّاكَ : **خاص تا ته.**

۱۱. نَعۡبُدُ : **عبادت کوو.**

۱۲. وَإِيَّاكَ : **او خاص ستا څخه.**

۱۳. نَسۡتَعِينُ : **غواړو.**

(إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ)

**(خاص تا ته عبادت کوو او خاص ستا څخه مرسته غواړو)**

۱۴. ٱهۡدِنَا : **موږ لار ښود کړه.**

۱۵. ٱلصِّرَٰطَ : **لاري ته.**

۱٦. ٱلۡمُسۡتَقِيمَ : **چې هغه سیده ده .**

(ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ)

(موږ لار ښود که و سیده لاري ته)

۱۷. صِرَٰطَ : هغه لار.

۱۸. ٱلَّذِينَ : چي د هغه کسانولپاره ده.

۱۹. أَنۡعَمۡتَ: چي تا انعام ور کړی.

۲۰. عَلَيۡهِمۡ : و دوی ته(پر دی).

(صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ)

(د هغو کسانو لاري ته چي پر هغو باندي انعام سوی دی).

۲۱. غَيۡرِ: نه لاره.

۲۲. ٱلۡمَغۡضُوبِ: د هغو چي غضب پر سوی دی.

۲۳. عَلَيۡهِمۡ : پر هغوی باندي.

۲۴. وَلَا ٱلضَّآلِّينَ : او نه هم د لار ور کو لار.

(غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ)

(نه لاره د هغو کسانو چي غضب پر سوی دی او نه هم د لار ور کو) .

# بسم الرحمن الرحيم

۱. قُلۡ: **و وايه.**

۲. أَعُوذُ: **پناه غواړم.**

۳. بِرَبِّ ٱلنَّاسِ : **د خلکو په خدای.**

(قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ)

**(و وايه چي پناه غواړم د خلکو په پروردګار سره)**

۴. مَلِكِ ٱلنَّاسِ : **د خلکو په مالک.**

۵. إِلَـٰهِ ٱلنَّاسِ : **د خلکو په معبود.**

(مَلِكِ ٱلنَّاسِ - إِلَـٰهِ ٱلنَّاسِ)

**(چي د خلکو خدای او معبود دی)**

٦. مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ : **د شر څخه د وسوسې.**

۷. ٱلۡخَنَّاسِ : **د شيطان.**

(مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ)

**(د شيطان له وسوسو او شر څخه)**

۸. ٱلَّذِى : **هغه شيطان.**

۹. يُوَسۡوِسُ : **چې وسوسه اچوي.**

۱۰. فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ. **په سينو کې د خلکو.**

( ٱلَّذِى يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ)

**(هغه شيطان چې د خلکو په سينو کې وسوسې ور اچوي)**

۱۱. مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ :

**له انساني او پيراني شيطانانو څخه.**

## بسم الله الرحمن الرحيم

۱. قُلۡ : **و وايه.**

۲. أَعُوذُ: **پناه غواړم.**

۳. بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ: **په خدای سره د اسمانو.**

(قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ)

**(و وايه چې د اسمانو په خدای سره پناه غواړم)**

۴. مِن شَرِّ: **له شر څخه.**

۵. مَا : **د هغه شي.**

٦. خَلَقَ: **چي پیدا کړی یې دی.**

(مِن شَرِّ مَا خَلَقَ)

**(له شره څخه د هر هغه شي چي هغه ج پیدا کړي دي)**

۷. وَمِن شَرِّ: **او له شر څخه.**

۸. غَاسِقٍ: **د تیارې.**

۹. إِذَا: **هغه وخت**

۱۰. وَقَبَ: **چي خپره سي.**

(وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ)

**(او له شر څخه د تیارې کله چي خپره سي)**

۱۱. وَمِن شَرِّ: **او له شره څخه.**

۱۲. ٱلنَّفَّٰثَٰتِ: **د جادوګرو ښځو.**

۱۳. فِي ٱلۡعُقَدِ: **په غوټو کي.**

(وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ)

**(او له شر څخه د جادوګرو ښځو په غوټو کي)**

**۱۴.** وَمِن شَرِّ: **او د شر څخه.**

**۱۵.** حَاسِدٍ : **د کینه ګر.**

**١٦.** إِذَا حَسَدَ : **هغه وخت چي کینه کوي.**

(وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ)

**(او له شر څخه د کینه ګر کله چي هغه کینه کوي)**

## بسم الله الرحمن الرحيم

**۱.** قُلۡ : **و وایه.**

**۲.** هُوَ : **هغه دی.**

**۳.** ٱللَّهُ : **خدای.**

**۴.** أَحَدٌ : **یوازنی.**

(قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ)

**(و وایه هغه یوازنی خدای دی)**

۵. ٱللَّهُ : **خدای.**

٦. ٱلصَّمَدُ : **بې نیازه.**

۷. لَمۡ يَلِدۡ : **له هغه څوک نه دي پیدا سوي.**

۸. وَلَمۡ يُولَدۡ : **او نه هغه له چا پیدا سوی.**

(ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ - لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ)

**(بې نیازه رب دی نه څوک ځني پیدا سوی دي او نه له چا پیدا سوی دی)**

۹. وَلَمۡ يَكُن : **او نسته.**

۱۰. لَّهُۥ : **هغه لره.**

۱۱. كُفُوًا : **شریک.**

۱۲. أَحَدُۢ : **هیڅ څوک.**

(وَلَم يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ)

**(او هیڅ شریک نه لري)**

# بسم الله الرحمن الرحيم

۱. تَبَّتۡ: هلاک دي وي.

۲. يَدَآ : دواړه لاسه.

۳. أَبِي لَهَبٍ: د ابي لهب.

۴. وَتَبَّ: او برباد دي وي.

(تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ)

(برباد دي وي لاسونه د ابي لهب او برباد دي وي)

۵. مَآ أَغۡنَىٰ : ګټه يې و نکړه.

٦. عَنۡهُ: له هغه څخه.

۷. مَالُهُۥ : شتمني يې.

۸. وَمَا : او هغه څه.

۹. كَسَبَ: چې تر لاسه کړي يې وه.

(مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ)

**(د هغه شتمني چې ګټه يې ونکړه او هغه څه چې لاس ته يې راوړي وه)**

**١٠.** سَيَصۡلَىٰ : **ژر دي داخيل سي.**

**١١.** نَارًا : **اور ته.**

**١٢.** ذَاتَ لَهَبٍ: **چې څښتن دى د لمبو.**

(سَيَصۡلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ)

**(ژر دي ولويږي و اور ته چې لمبې وهي)**

**١٣.** وَٱمۡرَأَتُهُۥ: **مېرمن دي يې هم.**

**١٤.** حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ: **بوټي روړي.**

(وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ)

**(او د هغه ښځه دي بوټي راوړونکې اوسي )**

**١٥.** فِي جِيدِهَا : **په غاړه کې يې.**

**١٦.** حَبۡلٌ : **رسۍ.**

**١٧.** مِّن مَّسَدٍ : **د خرما له پوست څخه.**

(فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ)

(د دې په غاړه دي د خرما د وني له پوسته څخه جوړه سوې رسۍ وي)

## بسم الله الرحمن الرحيم

۱. إِذَا : هغه وخت.

۲. جَآءَ : چې راسي.

۳. نَصۡرُ ٱللَّهِ : مرسته د خدای.

۴. وَٱلۡفَتۡحُ : او بريا.

(إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ)

(هغه وخت چې د خدای مرسته او بريا راسي)

۵. وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ : تاسو به و وينی خلک.

٦. يَدۡخُلُونَ : چې داخليږي به.

۷. فِي دِينِ ٱللَّهِ : په دين کي د خدای.

۸. أَفۡوَاجًا : ډلي ډلي.

(وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا)

**(نو وبه وينې خلک چې داخلېږي د خدای په دين کې ډلې ډلې)**

۹. فَسَبِّحۡ : **نو بيا تسبيح و وايه.**

۱۰. بِحَمۡدِ رَبِّكَ: **د خپل پرورد ګار په ستاينه سره**

۱۱. وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ : **او بخښنه وغواړه.**

۱۲. إِنَّهُۥ : **ځکه.**

۱۳. كَانَ تَوَّابَۢا : **هغه توبه منونکی دی.**

(فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا)

**(نو د خپل پروردګار تسبيح و وايه او بخښنه و غواړه ځکه خدای د بخښنې غوښتلو منونکی دی).**

# بسم الله الرحمن الرحيم

۱. إِنَّآ : **په رښتيا چې موږ.**

۲. أَعۡطَيۡنَٰكَ : **درکړی دی تاسو ته.**

۳. ٱلۡكَوۡثَرَ: **کوثر.**

(إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ)

**(په رښتيا چي موږ تاسو ته درکړی دی کوثر)**

**۴.** فَصَلِّ : **نو لمونځ وکړئ.**

**۵.** لِرَبِّكَ : **خپل رب ته.**

**٦.** وَٱنۡحَرۡ : **او قرباني ورکړئ.**

(فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ)

**(نو لمونځ وکړئ او قرباني ورکړئ خپل پروردګار ته)**

**۷.** إِنَّ شَانِئَكَ : **په رښتيا چي.**

**۸.** هُوَ : **هغه.**

**۹.** ٱلۡأَبۡتَرُ: **دم بريده(بې نسله)**

(إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلۡأَبۡتَرُ)

**(په رښتيا چي هغه بې نسله دی)**

## بسم الله الرحمن الرحيم

**۱.** أَرَءَيۡتَ: **ليدلي به مو وي.**

**۲.** ٱلَّذِى : **هغه کسان.**

**۳.** يُكَذِّبُ : **چې دروا‌غ وايي.**

**۴.** بِٱلدِّينِ : **په دين کې.**

(أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ)

**(آيا ليدلي مو دي هغه کسان چې درواغ وايي په دين کې)**

**۵.** فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى : **دا کسان.**

**٦.** يَدُعُّ : **توهينوي.**

**۷.** ٱلْيَتِيمَ : **يتيمان.**

(فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى يَدُعُّ ٱلْيَتِيمَ)

**(داکسان يتيمان توهينوي)**

**۸.** وَلَا يَحُضُّ : **او نه تشويقوي.**

**۹.** عَلَىٰ : **پر.**

**۱۰.** طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ : **ډوډۍ ور کولو و غريبانو ته.**

(وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ)

(او خلګ دې ته نه رابولي چي يتيمانو ته ډوډۍ ور کړي)

١١. فَوَيۡلٌ : **نو سخت عذاب دي وي.**

١٢. لِّلۡمُصَلِّينَ : **پر لمونځ کوونکو.**

١٣. ٱلَّذِينَ : **هغه لمونځ کوونکي.**

١۴. هُمۡ : **دوی چي دي.**

١۵. عَن: **له**

١٦. صَلَاتِهِمۡ : **خپل لمانځه څخه.**

١٧. سَاهُونَ : **خبر نه وي.**

(فَوَيۡلٌ لِّلۡمُصَلِّينَ - ٱلَّذِينَ هُمۡ عَن صَلَاتِهِمۡ سَاهُونَ)

**(بيا دي سخت عذاب پر هغه کسانو وي چي خپل لمونځونه هېروي)**

١٨. ٱلَّذِينَ : **اوهغه کسان.**

١٩. هُمۡ : **چي دوی.**

٢٠. يُرَآءُونَ : **رياکاري کوي.**

٢١. وَيَمۡنَعُونَ : **او منع کوي(نه ور کوي)**

۲۲. ٱلۡمَاعُونَ : هغه څه چي باید ور یې کړي.

(ٱلَّذِينَ هُمۡ يُرَآءُونَ -وَيَمۡنَعُونَ ٱلۡمَاعُونَ )

(هغوی چي ریا کوي او زکات نه ورکوي)

## بسم الله الرحمن الرحيم

۱. أَلَمۡ تَرَ : آیا و مو نه لیدل.

۲. كَيۡفَ: څنګه.

۳. فَعَلَ : کار یې و کړ.

۴. رَبُّكَ: ستاسو رب.

۵. بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ : د پیلانو د څښتنانو سره.

(أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ)

(آیا تاسو پیلانو والا و نه لیدل چي خدای څه ورسره و کړل)

٦. أَلَمۡ يَجۡعَلۡ : آیا وې نه ګرځوی.

۷. كَيۡدَهُمۡ : د هغوی چم او چل.

**۸.** فِي تَضْلِيلٍ : **بې اثره.**

(أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ)

**(ايا د هغو چم يې بې اثره نه کړ)**

**۹.** وَأَرْسَلَ : **او ور وا يې ستول.**

**۱۰.** عَلَيْهِمْ : **پر هغوی.**

**۱۱.** طَيْرًا : **مرغان.**

**۱۲.** أَبَابِيلَ : **ډلي ډلي.**

(وَأَرْسَل عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ)

**(او را وې لېږل مرغان ډلي ډلي)**

**۱۳.** تَرْمِيهِم : **چي ويشتل يې هغوی.**

**۱۴.** بِحِجَارَةٍ : **په ډبرو سره.**

**۱۵.** مِّن سِجِّيلٍ : **د دوږخ.**

( تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ)

**(چي ويشتل يې کول د دوږخ په ډبرو)**

١٦. فَجَعَلَهُمۡ : وې ګرځول.

١٧. كَعَصۡفٍ: لکه واښه.

١٨. مَّأۡكُولِۭ: ژوول سوي.

(فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٍ مَّأۡكُولِۭ)

(او هغوی داسې سول لکه ژوول سوي واښه)

## بسم الله الرحمن الرحيم

١. وَٱلۡعَصۡرِ: قسم په وخت.

٢. إِنَّ ٱلۡإِنسَـٰنَ : په رښتیا چې انسان.

٣. لَفِى خُسۡرٍ: په تاوان کي دی.

(وَٱلۡعَصۡرِ - إِنَّ ٱلۡإِنسَـٰنَ لَفِى خُسۡرٍ)

(قسم په وخت چې انسان تاوني دی)

۴. إِلَّا ٱلَّذِينَ : مګر هغه کسان.

۵. ءَامَنُواْ : چې ایمان یې راوړی.

٦. وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ: **او نیک کارنه کوي.**

٧. وَتَوَاصَوْا۟ : **او وصیت کوي.**

٨. بِٱلْحَقِّ: **په حق سره.**

٩. وَتَوَاصَوْا۟: **او وصیت کوي.**

١٠. بِٱلصَّبْرِ : **په صبر سره.**

(إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْحَقِّ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلصَّبْرِ)

**(مګر نه هغه کسان چي ایمان راوړی ښه کارونه کوي او نورو ورته رابولي او خلګو ته د صبر تلقین ورکوي)**

# د تسبيحاتو مانا

۱. الله اکبر:

**خدای t لوی دی.**

۲. سبحان ربي العظيم:

**زموږ ستر رب پاک دی**

۳. سمع الله لمن حمده:

**خدای اوري او مني ثناو او صفت د انسانانو چي د هغه اړه يې وايي.**

۴. ربنا لک الحمد:

**اې زموږ ستر ربه! زموږ رښتيا حمد او ثنا خاص تا لره ده.**

۵. سبحان ربي العلی:

**زموږ تر ټولو لوړ رب (په مانا کي) پاک دی.**

٦. السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته:

**پر تاسو دي د خدای سلامتيا، رحمت او برکتونه وي.**

# د دعاوو مانا

## سبحانک اللهم

۱. سُبحَانکَ اللهُمَ: پاکي ده تاته اې! خدايه t.
۲. وَبِحَمدِکَ: او ثناء او صفت تاته دی.
۳. وَتبَاَرکَ اِسمکَ: او ستا د نامه په برکت
۴. وَتعَاَلَیٰ: او ډېر لوړ دی.
۵. جَدُکَ: ستا لوی والی.
٦. وَلاَاِلَهَ: نسته هیڅ پر حق د عبادت وړ .
۷. غَیرُکَ: ستا څخه پرته.

(پاکی ده تاته اې خدایه !او ثنا او صفت دی تاته،او له برکته ډک دی ستا نوم او ډېر لوی دی ستا لوی والی،او نسته هیڅ پر حق د عبادت وړ ستا څخه پرته).

## التحیاتو

۱. اَلتحِیاتُ: ټول احترامونه.
۲. للہ: خاص د خدای لپاره دي.
۳. وَاَلصلَوَاتُ: او ټولو لمونځونه.

| | |
|---|---|
| ۴. وَالطيباتُ: | **او ټولي پاکۍ.** |
| ۵. اَلسلامُ عَلَيکَ: | **سلام پر تا.** |
| ٦. اَيهَاالنبِيُ: | **اې نبي!** |
| ۷. وَرَحمَةُ اللهِ: | **او رحمت د خدای.** |
| ۸. وَبَرکَاتهُ: | **او بر کتونه.** |
| ۹. اَلسلامُ عَلَينَاَ: | **او سلام پر موږ.** |
| ۱۰. وَعَلي عِبَادِ اللهِ: | **او پر بندګانو د خدای.** |
| ۱۱. الصالِحَينَ: | **چي هغه صالحين دي.** |
| ۱۲. اَشهَدُ اَن: | **شاهدي ور کوم پر دې.** |
| ۱۳. لَا اِلهَ: | **بل خدای نسته.** |
| ۱۴. اِلَّا اللهُ: | **پر ته له يوه خدايه.** |
| ۱۵. وَاَشَهَدُ اَن: | **او شاهدي ور کوم.** |
| ۱٦. مُحَمداً عَبدُهُ: | **چي محمد د هغه بنده.** |
| ۱۷. وَرَسُولُهُ: | **او رسول دی.** |

**(ټول درنښتونه او احترامات،ټول عبادتونه او لمونځونه،ټولي سپيڅلتيا وي او پاکۍ،يوازي او يوازي پاک خدای ته دي،سلام پر تا اې نبي کريم او رحمتونه او بر کتونه د خدای،سلام پر موږ او د خدای پر نيکو بندګانو باندي،شاهدي ور کوم چي د خدای څخه پر ته بل د عبادت وړ او لايق څوک نسته او حضرت محمد د هغه رسول او بنده دی).**

# درود شریف

۱. اَللهُمَ : **اې پروردګاره.**
۲. صَلِ : **درود او رحمت ولېږه.**
۳. عَلىٰ مُحَمد : **پر محمد.**
۴. وَعَلىٰ آلِ مُحَمد : **او د هغه پر کورنۍ.**
۵. کَمَا صَلَیتَ : **څنګه چې درود لېږلی وو.**
۶. عَلىٰ اِبرَاهِیمَ : **پر ابراهیم.**
۷. وَعَلىٰ آلِ اِبرَاهِیمَ : **او د هغه پر کورنۍ.**
۸. اِنکَ حَمِید مجِید : **ځکه ته ستایل سوی او لوی يې.**
۹. اَللهُمَ : **اې پروردګاره.**
۱۰. بَارِک : **برکت وکړه.**
۱۱. عَلَىٰ مُحَمد : **پر محمد.**
۱۲. وَعَلىٰ آلِ مُحَمدٍ : **او د هغه پر کورنۍ.**
۱۳. کَمَا بَارَکتَ : **څنګه چې تا برکت کړی وو.**
۱۴. عَلىٰ اِبرَاهِیمَ : **پر ابراهیم .**
۱۵. وَعَلىٰ آلِ اَبرَاهِیمَ : **او د هغه پر کورنۍ.**
۱۶. اِنکَ حَمِید مَجِید : **ځکه ته ستایل سوی او لوی يې.**

# اللهم ربنا

۱. اَللهُمَ رَبنَاَ: اې پروردګاره.
۲. آتِنَا: راکه موږ ته.
۳. فِي الدُنيَا: په دنيا کې.
۴. حَسَنَةً: ښېګڼې.
۵. وَفِيَ الآخِرةِ: او په اخيرت کې.
۶. حَسَنَةً: ښېګڼې.
۷. وَقِنَاَ: او و مو ساتې.
۸. عَذَابَ النارِ: د اور د عذاب څخه.

(اې ستر پروردګاره! موږ ته خير او ښېګڼې د دې دنيا او اخيرت را په برخه که او د دوږخ له لمبو مو وساته)

# دعاي قنوت

۱. اَللهُمَ: اې پروردګاره.
۲. انا: موږ
۳. نَستَعِينُکَ: ستا څخه مرسته غواړو.
۴. وَنَستَغفِرُکَ: او ستا څخه بخښنه غواړو.

| | |
|---|---|
| ۵. وَنُومِنُ بِکَ: | **او پر تا مو ایمان راوړی.** |
| ٦. وَنَتَوکلُ عَلَیکَ: | **او پر تا توکل کوو.** |
| ۷. وَنُثنِي عَلَیکَ الخَیرِ: | **او پر تا ښه ثنا او صفت وایو.** |
| ۸. وَنَشکُرُکَ: | **او ستا شکر کاږو.** |
| ۹. وَلَانکفُرُکَ: | **او ناشکري نه کوو.** |
| ۱۰. وَنَخلَعُ: | **او پرېږدو.** |
| ۱۱. وَنَترکُ: | **او ایله کوو.** |
| ۱۲. مَن یفجُرُکَ: | **څوک چې ګناهکار وي.** |
| ۱۳. اَللهمَ: | **اې پروردګاره.** |
| ۱۴. اِیاکَ نعبُدُ: | **خاص تا ته عبادت کوو.** |
| ۱۵. وَلکَ نُصَلِي: | **او تا ته لمونځ کوو.** |
| ۱٦. وَنَسجُدُ: | **او سجده کوو.** |
| ۱۷. وَاِلَیکَ نَسعیٰ: | **او ستا لپاره کوښښ کوو.** |
| ۱۸. وَنَحفدُ: | **او په تېزی سره په خدمت کې یو.** |
| ۱۹. وَنَرجوُ رحمَتکَ: | **او و رحمت ته امیدواره یو.** |
| ۲۰. وَنَخشیٰ عَذَاَبکَ: | **او له عذابه دي بېرېږو.** |
| ۲۱. اِن عَذَاَبکَ: | **په رښتیا چې ستا عذاب.** |
| ۲۲. بِالکُفَارِ مُلحِق: | **د کافرانو لپاره دی.** |

# د اوداسه احکام

# د اوداسه فرضونه

د اوداسه فرضونه څلور دي:

۱. د مخ پرېولل.
۲. د لاسونو پرېولل تر څنګلو له څنګلو سره.
۳. د سر د څلورمي برخي مسحه.
۴. د پښو پرېولل تر بجلکو او له بجلکو سره.

# د اوداسه سنتونه

**د اوداسه سنتونه زيات دي خو تر ټولو مهم يې دا دي:**

۱. نيت كول(په زړه كي).
۲. تر تيب .(اول د لاسو پرېولل،بيا د خولي او پزي پرېولل..)
۳. بسم الله ويل.
۴. تر مړوندو د لاسو پرېولل.
۵. مسواک وهل.
٦. د خولې او پزي پرېولل.
۷. د ږيري خلاله ول.
۸. د لاسو د ګوتو خلاله ول.
۹. د هر غړي درې ځله پرېولل.
۱۰. د ټول سر مسحه كول.
۱۱. د تندي څخه د مسحي شروع كول.
۱۲. د غوږو مسحه كول.
۱۳. له راستې خوا شروع كول.
۱۴. د پښو او لاسو پريولل د منځ لخوا.
۱۵. پرله پسې پرېولل.
۱٦. د پرېوللو په وخت كي دټولو غړو موږل .

# د اوداسه اداب

۱. مخ پر قبله کښېنستل.
۲. پر لوړ ځای کښېنستل ترڅو چي د اوبو څاڅکي کالو ته و نه غورځي
۳. د ساعت،انګوشترۍ او نورو ور ته شیانو څرخول.
۴. خولې او پزي ته په راسته لاس اوبه ور اچول او په چپه لاس پاکول.
۵. د غوږونو په سريو کي د ګوتو ښورول.
٦. د وخت تر داخیلېدو مخکي اوداس تازه کول.
۷. د اوداسه تر تازه کولو وروسته د شهادت د کلمې ویل.
۸. د مخ او نورو غړو نه وچول.
۹. د اوداسه څخه د پاته سوو اوبو څښل.

# د اوداسه مکروهات

١. د ابو زيات مصرفول.
٢. تر درې ځله زيات پرېولل.
٣. د پرېوللو په وخت کي د اوبو نه بيول.
۴. اوبه په زوره پر مخ يا بل ځای وهل.
۵. د اوداسه په وخت کي خبري کول.
٦. له عذر ځخه پرته په اوداسه کي له نورو ځخه مرسته غوښتل.
٧. په چټل ځای کي اودس تازه کول.
٨. و ځان ته د يوه لوښي ځانګړي کول چي په دې سره به يوازي زه اودس تازه کوم.

# د اوداسه ماتونكي

**د اوداسه ماتونكي په لوى سر كي پر دوه ډوله دي:**

1. **حقيقي ماتونكي.**
2. **حكمي ماتونكي.**

## حقيقي ماتونكي

1. **هر هغه شى چي د انسان له دوو ضرورت ځايونو څخه را ووزي.**
2. **هر نجاست چي د انسان له وجود څخه په داسي حال كي را ووزي چي و بهيږي لكه وينه،نوان،خرابي اوبه او...**
3. **په ډكه خوله قى وهل.**
4. **له خولې او غاښو څخه ويني راتلل.**
5. **د پيچكارى يا وينه كښښ په وسيله د ويني كښل.**

# حکمي ماتونکي

۱. بیدېدل.
۲. په لمانځه کي په زوره خندا (پر ته د جنازې له لمانځه) په زوره خندا هغه خندا ته وایي چي د څنګ کس یې وا وري او که چیري د څنګ څوک یې وا نه وري یوازي لمونځ د سره کیږي اوداسه ته اړتیا نسته.
۳. بېهوښي.
۴. لیونی کېدل.
۵. نشه کېدل

# هغه شيان چې اودس نه ماتوي

١. له بهېدلو پرته د وينو را وتل.
٢. بې له وينو له کوم ټپ څخه د غوښې لوېدل.
٣. د بدن څخه د چينجي راوتل(پرته له شرمځايونو).
٤. په شرمځايونو لاس وهل.
٥. په تشه خوله قی وهل.
٦. بلغم.
٧. عادي پرموښې چې د بالښت په ليري کول سړی نه سي چپه.
٨. د لمونځ کوونکي بيدېدل د لمانځه په وخت کې.

# هغه کارونه

## چې بې اودسه د هغه کول حرام دي

١. لمونځ.
٢. سجده تلاوت.
٣. د جنازې لمونځ.
٤. په قراني کریم بې پوښه لاس وهل.
٥. د کعبې شریفې طواف کول

# د لمانځه فرضونه

د لمانځه فرضونه هغه کړني دي چي په نه تر سره کولو سره يې لمونځ نه صحيح کيږي،چي پر دوه ډوله دي:

١. د لمانځه څخه دباندي فرضونه (د لمانځه شرطونه).
٢. په لمانځه کي دننه فرضونه (د لمانځه ارکان).

## د لمانځه څخه د باندي فرضونه

د لمانځه څخه د باندي فرضونه چي د لمانځه د شرطونو په نامه هم ياديږي،هغه فرضونه چي د لمانځه له اديني څخه مخکي بايد تر سره سي چي په لاندي توګه دي:

١. د لمونځکونکي د بدن پاکي.
٢. د لباس او د هغه سره اړوند ټولو شيانو پاکي.
٣. د لمانځه د ځای پاکي.
۴. د عورت پټول.

۵. مخ د کعبې پر خوا درېدل.
٦. پر وخت ادا کول.
۷. تکبیر تحریمه (الله اکبر) ویل.

## د لمانځه داخلي فرضونه

د لمانځه داخلي فرضونه یا د لمانځه ارکان هغه کړنو ته وايي چې د یوه په نه تر سره کولو سره یې لمونځ فاسدیږي او په ځنډ سره یې سجده سهوه لازمیږي،چې په لاندي توګه دي.

۱. ولاړه(قیام) چې څوک توانایي و لري.
۲. د سورت ویل(تر درو لنډو یا یوه اږده کم نه وي)
۳. رکوع.
۴. لومړۍ سجده.
۵. اخیري ناسته.
٦. له لمانځه څخه په خپل واک وتل.

# د لمانځه واجبات

څنګه چې مخکي د لمانځه پر سنتو او فرضو و ږغېدو اوسو راځو په همدې توګه د لمانځه پر واجباتو ږغیږو د لمانځه واجبات هغه کړني دي چې په نه کولو سره يې پر لمونځ کوونکي سجده سهوه لازميږي،چې په لاندي توګه دي:

۱. د لمانځه شروع په (الله اکبر) سره.
۲. د سورت فاتحې ویل.
۳. الحمدالله او یو سورت یو ځای ویل(که څه هم مخي مو ویلي وه چې سورت ویل فرض دي مګر له سورت فاتحې سره یو ځای کول يې واجب دي.
۴. د سورت ویل په اولو دوو رکاتو کي.
۵. د الحمدالله مخکي والی تر بل سورت.
۶. په سجده کي د پزي او تندي لګول.
۷. د ترتیب مرعت کول.
۸. په ډاډ سره لمونځ کول.
۹. اوله ناسته کول.

۱۰. د التحیات ویل په ناسته کې.
۱۱. له التحیاتو څخه وروسته په څلور رکاتیزه یا درې رکاتیزه لمانځه کې ژر ولاړېدل.
۱۲. مولا لپاره په جهره ځایونو کې په جهر سره ویل او په خفیه ځایونو کې په خفیه توګه ویل.
۱۳. له لمانځه څخه د سلام په ګرځولو وتل.
۱۴. په وترو کې دعاي قنوت ویل.
۱۵. په جمعه لمونځو کې د مولا پیروي کول.
۱۶. د اختر د لمانځه تکبیرونه.

# د لمانځه سنتونه

هغه کارونه او خبري دي چي په لمانځه کي د هغه په کولو سره انسان ثواب ګټي او په پرېښودلو سره يې سجده سهوه نه اوړي خو دونه خبره ده چي د اخرت په ورځ ځوک د خدای تر ملامتیۍ لاندي راځي او په لاندي توګه دي.

١. د تکبيري تحريمه په وخت کي لاسونه غوږو ته پورته کول.
٢. د تکبيري تحريمې په وخت کي د لاسو د ګوتو ايله پرېښودل.
٣. د تکبيري تحريمه پر وخت ورغوي د کعبې شريفي خواته نيول.
۴. د تکبيري تحريمه په وخت کي سره په عادي حالت نيول.
۵. د مولا سره يو ځای د تکبير ويل.
٦. د راسته لاس پر چپه لاس اېښودل.
٧. د سبحانک اللهم ويل.

۸. د الحمد الله څخه مخکې د اعوذ بالله ويل.
۹. د اعوذبالله وروسته بسم الله ويل.
۱۰. له الحمدالله وروسته امين ويل.
۱۱. د مولا لخوا د تکبيرونو،سمع الله لمن حمده او السلام په زوره (جهره) ويل.
۱۲. په ولاړه کي د پښو تر منځ فاصله.
۱۳. د سهار په لمانځه کي د الحمدالله څخه وروسته د اوږدو سورتونو ويل،د ماځيګر او ماخستن په لمانځه کي د ميانه سورتونو ويل او د ماښام په لمانځه کي د لنډو سورتونو ويل.
۱۴. د لومړي رکات اوږدول تر دوهم رکات.
۱۵. له يوه رکن څخه و بل رکن ته د اوښتو په وخت کي د تکبير ويل.
۱٦. د رکوع په وخت کي د زنګنونو نيول.
۱۷. په رکوع کي د ګوتو تر منځ فاصله ساتل.
۱۸. د بغلنو څخه د لاسونو ليري نيول د نارينو لپاره.
۱۹. د ملا شخ نيول په رکوع کي.
۲۰. د سر او ملا برابر ساتل په رکوع کي.
۲۱. په رکوع کي سبحان ربي العظيم ويل.
۲۲. د تسبيحات طاق ويل.

۲۳. له رکوع څخه وروسته سمع الله لمن حمده ویل.
۲۴. له رکوع څخه وروسته د رکوع په اندازه درېدل.
۲۵. ربنا لک الحمد ویل.
۲٦. په سجده کي لومړی د زنګنونو ایښودل.
۲۷. په سجده کي له تندي څخه مخکي د لاسونو ایښودل.
۲۸. په سجده کي مخ د دوو لاسو ترمنځ ایښودل.
۲۹. په سجده کي د لاسونو داسي ایښودل چي د ګوتي څوکي د کعبې خواته وي.
۳۰. د پښو د ګوتو څوکي د کعبې خوا ته کول.
۳۱. له نس څخه د بغلونو لیر نیول(د نارینو لپاره)
۳۲. د نس لیري والی له ورنو څخه ( د نارینو لپاره)
۳۳. د څنګلو مښلو له بغلونو سره او د نس مښلول له ورنونو سره.(د ښځو لپاره)
۳۴. په سجده کي سبحنا ربي الاعلی ویل.
۳۵. د دوو سجدو تر منځ د یوې سجدې په اندازه ناسته.
۳٦. د راستې پښې درول او د چپې پښې بیدول په ناسته کي.
۳۷. د نجونو او ښځو لپاره په ناسته کي پښې له ځانه راستې خوا ته کښل.

۳۸. په ناسته کي راسته لاس پر راسته ورانه او چپه لاس پر چپه ورانه ایښودل.
۳۹. د التحیاتو ویل.
۴۰. په دریم او څلورم رکات کي الحمدالله ویل.
۴۱. په اخیري ناسته کي د درود ویل.
۴۲. د یوې دعا ویل له درود وروسته.
۴۳. مخ راستې او چپې خواته ګرځول د سلام په وخت کي.
۴۴. د سلام په وخت کي د خلکو،ملایکو،پېریانو او نورو په نظر کي درلودل.
۴۵. له سلام وروسته د یوې دعا ویل.
۴۶. د ۳۳ ځله (الحمد الله)،۳۳ ځله (سبحان الله) او ۳۳ ځله(الله اکبر) ویل.
۴۷. لا اله الا الله وحده لا شریک له له الملک و له الحمد و هو علی کل شی ء قدیر). ویل.

# د لمانځه اداب

څنګه چې په عادي ژوند کې ټولنيز ادبونه د خورا زيات اهميت درلودنکي دي په همدې توګه په اسلام کې چې يو رښتنی ټولنيز دين دی د ټولو امرو لپاره ځاني خاص ادب سته چې د لمانځه په اړخ کې يې هم خاص ادب وړاندي کړي چې په لاندي توګه دي:

۱. د لستوڼو څخه د لاسو را ايستل (د نارينو لپاره)
۲. په ولاړه کې د سجدې ځای ته کتل،د رکوع په وخت کې پښو ته کتل،د سجدې په وخت کې پزي ته کتل او د ناستي په وخت کې نس ته کتل.
۳. په ډېره عاجزي سره درېدل.
۴. له ټوخي څخه د توان تر حده ځان ساتل.
۵. د اررږمې په وخت کې پر خوله لاس نيول.

# د لمانځه مکروهات

څنګه چي اوداسه ځان ته مکروهات درلودل په همدې توګه لمونځ هم يو لړ مکروهات لري چي په لاندي توګه دي:

۱. په قصده د واجب يا سنتو پرېښودل.
۲. په کالو يا بدن لوبي (بازئ) کول.
۳. د تندي پاکول له خاور يا بل شي څخه.
۴. د شګو ليري کول.
۵. د ګوتو ټکان ايستل.
٦. ګوتي په يوه او بل کي سره ور کول.
۷. لاسونه پر ملا نيول.
۸. يو شي يا چا ته کتل.
۹. په مسجد کي ناوړي توپ کول.
۱۰. چارزانو کښېنستل.
۱۱. د حيوان په څېر کښېنستل.
۱۲. په سجده کي نارې وهل.

۱۳. د دستمال یا دوبټې پر ځان داسي اچول چي لاندي ځړیږي.
۱۴. په یوه پر داګه کي له ضرورت څخه پر ته لمونځ کول.
۱۵. د بالا پوښ یا چپني په غیري منظمه توګه پر ځان اچول.
۱٦. په لڅ سر لمونځ کول.
۱۷. په پټ مخ لمونځ کول.
۱۸. د ور ېښتانو غوټه یا چوټي کول (د نارینو لپاره)
۱۹. د سلام جواب په لاس یا اشاره ور کول.
۲۰. له ولاړي پر ته قرئت ویل.
۲۱. د دوهم ر کات اوږدول تر اول ر کات.
۲۲. په یوه ر کات کي د سورت دوه واره ویل.
۲۳. د قران اعظیم الشان له تر تیب څخه غلط قرئت ویل.
۲۴. په سجده کي د پښې ګوتي د کعبې خواته نه کول.
۲۵. ارږمۍ کښل.
۲٦. ستر ګي پټول.
۲۷. په لمانځه کي اسمان ته کتل.
۲۸. ټمبلي او سوستي کول.
۲۹. پر لنګوټه سجده کول .
۳۰. د انسان یا حیوان پر عکس سجده کول.

۳۱. په داسي خونه کي لمونځ کول چي هلته د ژوندي موجوداتو عکسونه وي.
۳۲. په داسي کالو کي لمونځ کول چي پر هغه د ژوندي موجود عکس وي.
۳۳. یوازي پر تندي سجده کول.
۳۴. په حمام کي لمونځ کول.
۳۵. په هدیره کي لمونځ کول.
۳۶. په لاره کي لمونځ کول.
۳۷. د بل چا په مځکه کي د هغه بې اجازې لمونځ کول.
۳۸. په غصب سوې مځکه کي لمونځ کول.
۳۹. په داسي اوداسه لمونځ کول چي په تکلیف یې راټینګ کړی وي.
۴۰. په بې ارزښته او بې درنښته کالو کي لمونځ کول.
۴۱. د ډوډۍ پر وخت لمونځ کول.
۴۲. په لمانځه کي د تسبیحاتو او ایتونو شمارل.
۴۳. د امامت په وخت کي د امام و محراب ته پوره ننوتل.
۴۴. په شاته صفونو کي دریدل په داسي حال کي چي په مخکي صفونو کي ځای وي.
۴۵. د لمانځه و مخي ته د اوربلول.

۴٦. په داسي ځاى لمونځ كول چي مخ ته يې خلك تيريږي.

۴۷. له الحمد الله څخه پر ته د بل سورت غوره كول.

۴۸. بې مصلې لمونځ كول.

# هغه حالتونه چې

## د لمانځه قطع کول جایز دي

۱. کله چې د لمانځه په وخت کې کور ته غله راسي.
۲. د ړانده، کوچني او حیوان د ژغورولو په خت کې.
۳. په مصیبت کې د راګیر چا د چغو په وخت کې چې هغه ته خلاصونه ور کي.

# د لمانځه مفسدات

د لمانځه مفسدات هغه کړني دي چي په تر سره کولو سره لمونځ فاسديږي او بير ته بايد لمونځ له سره و سي دا مفسدات په لاندي توګه دي:

١. په لمانځه کي خبري کول.
٢. ډېر کار کول(په دونه اندازه کار کول چي له لمانځه پرې ووزي)
٣. د سيني حرکت و راستې يا چپې خواته د ليدلو په موخه.
٤. په سهوه يا په قصد سره خوړل يا څښل.
٥. د لمانځه په وخت کي د د اوبو ليدل(د تيمم وهونکي لپاره)
٦. د زخم څخه د پټۍ لوېدل.
٧. د عذرمن سړي عذر سمېدل.
٨. د موزې د مسحي وخت پوره کېدل.
٩. د موزې ختل د التحياتو په اندازه.

۱۰. د لمانځه په منځ کي د داسي پيدا کول چي عورت په پټ سي (د لڅو لپاره)
۱۱. پر سجده او رکوع توان پيدا کول.
۱۲. د قضاسوي لمانځه يادېدل.
۱۳. د لمانځه په وخت کي يا د لمر ختل يا لوېدل.
۱۴. د عورت لڅېدل.
۱۵. په يو شي ناپاکه کېدل.
۱٦. خندا کول.
۱۷. له قران يا کوم بل کتاب څخه ويل.
۱۸. د معنٰی تغير.
۱۹. د خليفه نيول د هغه کسانو لخوا چي د ملاکېدو صلاحيت نه لري.
۲۰. له الله کي الف ته مد ورکول او په اکبر کي بې ته مد ورکول.
۲۱. که چيري مقتدی تر ملا وړاندي والی وکي.

## د لمانځه وختونه

۱. د سهار د لمانځه وخت:د رښتني سهار(صبح صادق) څخه چي دوهم سهار دی او هغه روښنايي ده چي د شپې په اخير کي د ختيځ له خوا راځي تر لمر ختو پوري.
۲. د ماپښين لمونځ:د زوال له شروع يعني د لمر له مايل کېدو څخه د لوېدو و خواته شروع د سيوري تر دوه نيم ځلې (دونيم چندی) پوري جواز لري چي دا وخت تقريباً له اذان څخه دوه ساعته راځي.
۳. د ماځيګر لمونځ:د ماپښين د لمانځه له پای ته رسېدو سره سم د لمر تر ژړ کېدلو يا بخي لوېدلو پوري.
۴. د ماښام لمونځ:د لمر لوېدو څخه شروع او د ستور تر ښکاره کېدلو پوري جوازي لري.
۵. د ماخستن لمونځ:د ماښام د وخت تر خلاصېدو وروسته د صبح صادق تر راختو پوري.

پای
۵:۴ دقيقې

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.